# شمله

زه په تا ښکلی ته په ما ښکلی یې
ګله وطنه په رښتیا ښکلی یې
ټیټه دې نه شوله مغروره شمله
له پته ډکه په والله ښکلی یې
عشقه که ډېر دې کړل د غرو لیوني
ما لیوني ته له دنیا ښکلی یې
نور بې وفا دي چې وفا دې غواړي
حسنه ته ما ته بې وفا ښکلی یې
دا پښتونواله ده که دود د پښتو
سره چې تل په پښتونخوا ښکلی یې
پوه شوې که نه په انتها د منصور
داره زما په ابتدا ښکلی یې
دیار په ډېرې خندا نه شوې ټکور
زخمي ګوګله بې دوا ښکلی یې
شاعر: افضل ټکور
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود



افغانستان دمیړنو دشملو وطن

# پردیسه مینه



ای غمه خوشالي زما په کلي راوله
جانان مې د زاړه قبر په څلي راوله
یو ځل خو د پردیسې مینې سوې سپور وربل ته
سپرلیه څو ګلونه نازولي راوله
را پېښ که شوې زما دزړه په وراني هديرې
ستونه دې په سترګو کې ښاغلي راوله
وختونو که یوه خبره زما په دعا کېږي
دا تللې ځواني ببرته لاس نیولې راوله
ای سویو اسویلو د زړه نیمګړو حسرتونو
ټکور ته هاغه لرې لیلا ښکلې راوله.

شاعر: افضل ټکور
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود



# پسرلي ته

سپرلی که د چمن سوداګرانو ته موسکی دی
ښایست موړ بد نصیبو لېونیانو ته موسکی دی
دا ستا تشته خندا زموږ وږلو لره بس ده
قاتل ځله زموږ غونډې خوارانو ته موسکی دی
د ژوند د سرو ګلونو د ښایست ناوې به راشي
ژوندون زما د کلي ماشومانو ته موسکی دی
خبر نه یم کرم یې څنګه سترګو کې پیدا شو
ساقي چې میخانه کې میخوارانو ته موسکی دی
اشنا دا ستا ښایست په دې چمن غونډې وطن کې
پوه نه شومه چې ولې دوزخیانو ته موسکی دی
دا سوی لوی زړه چې مې اشنا نه ټکوریږي
پوهیږمه غرور مې رقیبانو ته موسکی دی

شاعر: افضل ټکور
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود



# دروزګار غمونه

دیار غمونه
دروزګار غمونه
په مخه کړی یمه
چرته چې ځم چرته چې اوسم
راپسې دي
د زړه وینې مې خوري
هیڅ خبر نه یم
چې له دې سوو سلګو او ارمانونو نه به
زه په ټول عمر کې
یو ځلې په خندا شم که نه؟

شاعر: افضل ټکور
ترتیب کوونکی: عبدالقادرمسعود

## پوښتنه



مور تپوس راځنې وکړ
کوم څېزونه دې خوښېږي؟
ما ځواب کې ورته ووی
چې دا درې څیزه مې خوښ دي
ژوند ، مینه او ښکلا
هغې بیا پوښتنه وکړه:
کوم څیزونه دې بد ایسي؟
ما ځواب کې ورته ووی
درې څیزونه مې بد ایسي
چې دي:
مرګ، وینه او ظلم.

شاعر: افضل ټکور
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود

## تنهایي



زه یم، غم دی، تنهایي ده، توره شپه ده
خو ستا مینه مې د زړه د کور ډیوه ده
غواړي ما او تا له یو بله جدا کړي
د دې دور څه عجیبه فیصله ده
دم په دم راځني وینې د زړه غواړي
د یار مینه څه بلا سړي خوره ده
د وصال په شپه دې هېر دي که په یاد دي
چې به تا هره خبره کړه ما وی ښه ده
هیڅ تمیز د ښه او بد کولی نه شې
دا دنیا راته ښکارېږي چې ړنده ده
د هغو خوږو یارانو نه لوګی شم
چې د خولې او زړه خبره یې یوه ده

شاعر: افضل ټکور
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود

# زلفې

دا ليونۍ سترګې دې راواړوه
قتل مې کړه خاورې پر ما واړوه
مه شمېره دانې زما د اوښکو نن
بس خپلې وعدې په سبا واړوه
ژوند خو به تېرېږي که لمبې وي هم
ته خو دې نن زلفې په شا واړوه
سترګو کې دې څه دي خو يو زه يمه
نورو نه دې مخ بې وفا واړوه
نيغ مې په زړه وله راته تم نه شې
دوه سلګۍ مې ژوند په خندا واړوه
راشه ته !د زړه ټکورولو ته
خاورې د طبيب په دوا واړوه

شاعر: افضل ټکور
ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود





# غزل

په مونږه بد نصيبو د تورتم مهرباني ده
ديار د تورو زلفو پيچ وخم مهرباني ده
يارانو د دارلو به خولا نه ده ختمه شوې
چې نه مرو دا په مونږه د ستم مهرباني ده
اشنا د مو سبېدلو حق له موږ څنې اخيستی
په غيرو غمازانو د صنم مهرباني ده
زما په وران مالت، ورانې جونګړې، وران وطن کې
د مرګ او د سرو وينو دم په دم مهرباني ده
د زړه د پرهرونو د ټکور اميد يې نشته
چې نن په غمازانو د مرهم مهرباني ده

شاعر: افضل ټکور
ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود



# غزل

ستا په حسن دې زما د ګلې سوګند وي
که د ژوند په ښو او بدو کې مې خوند وي
زمانه به هغه زړونه کله بېل کا
چې په تار د محبت سره پيوند وي
ستا ښايست زما په مينه کې کامل شو
بل به چاته دا ستا حسن ارجمند وي
چې زما په هکله تاته دروغ وايي
د رقيب مقام به خود تاته بلند وي
ټکور ستا په جدايي کې د زړه سره
په والله که خوښ يوه شېبه په ژوند وي

شاعر: افضل ټکور
ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود



# غزل

نن چې ليلا راته موسکۍ غونډې شوه
ساه مې په زړه کې را ژوندۍ غونډې شوه
د زړه دنيا مې پرې ودانه شوله
د خندا ډکه لبونۍ غونډې شوه
که زه نغمه شوم د ادم د رباب
هغه هم جوړه درخانۍ غونډې شوه
اوښکې مې سترګو کې روښانه شولې
چې محبوبا مې خندنۍ غونډې شوه
ټکوره تا چې کړه دعوه د فرهاد
هغه اوس هم د شيرينۍ غونډې شوه

شاعر: افضل ټکور
ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود

# غزل



زماني کړمه له یاره جدا ولې؟
څله ولي مې په کاڼو اشنا ولې؟
ما خو پټه ستا خوږه مینه ساتله
نن په ټول عالم کې یمه رسوا ولې؟
راته وایه بیا د کوم جرم د لاسه
غمازان راپورې کاندې خندا ولې؟
زه خو تږی ستا د سترګو د دیدن یم
ته پټېږې مې له مخې لیلا ولې؟
رقیبان دې ملامت نه دي چې څه کا
وایه ته راسره کاندې جفا ولې؟
ټکور ځانته ستا د دوو سترګو ملنګ دی
درنه هېرې شوې وعدې د وفا ولې؟

شاعر: افضل ټکور
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود

# غزل



له سترګو وینې دې څڅېږي زما
په زړه زخمونه دې جوړېږي زما
هلته چې خیال کې لرې هم تېره شي
دلته سینه کې زړه درزېږي زما
دیار د دوو سترګو دیدن په خاطر
زړه د ماشوم غوندې ژړېږي زما
چې نوم دیار هم د رقیب په خوله شي
او ښکه روښانه شي خندېږي زما
دا په ګوګل کې تهمتي زړګی مې
د بېلتانه اور کې سوزېږي زما
راشي، د ښکلو دا ستم وګورئ
وایي ټکور سترګې ړندېږي زما

شاعر: افضل ټکور
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود



# غزل

زه يې څه کړم که ښايسته مخونه ډير دي
ستا يادونه مې تل زړه نه را چاپير دي
هغه سترګې به له اوښکو وچې نه شي
چې ديدن د ښکلي مخ ورته اند ېروي
د هوس باز به يې څنګه پروازو کړي
که د تورو زلفو دام کې چرته ګېر وي
د وصال ناوې د هغه په قسمت ده
په هجران کې چې له سرو مال نه تېر وي
ټکور هلته ملامت بولیٔ ملګرو
که د دار په سر يې ښکلی جانان هير وي

شاعر: افضل ټکور
ترتيب کوونکی: عبدالقادرمسعود



# غزل

تل چې مې په خوله وه هغه يار څه شو
دلته چې راته هغه ربيار څه شو
مانه چې يې زړه په خندا يوړلو
اوس هغه د ګل غوندې رخسار څه شو
نن چې په خوبونو کې هم نه راځي
هغه د خورو څښو بازار څه شو
تل چې ميکده کې سوال د ميو و
اوس هغه ساقي هغه خمار څه شو
هغه د ټکور د زړه همدم صنم
ووايه قاصده نن سهار څه شو.

شاعر: افضل ټکور
ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود

# غزل

سترګې چې په نازاوادا اړوي
زړه زما په غم او سودا اړوي
خيال کې چې رايادې تورې زلفې شي
ما ليونی سم په بيديا اړوي
ورکه دې شي داسې يارانه خلکو
عمر چې په نن او سبا اړوي
بل شي اور زما د زړه په خونه کې
څښې چې بيا شاته ليلا اړوي
دا د هجر شپې چې يادوم کله
خيال مې په غمو د دنيا واړوي
څوک چې راته تش دجانان ووايي
هلته ما ټکور په دعا واړوي

شاعر : افضل ټکور
ترتيب کوونکی : عبدالقادر مسعود





# غزل

چې ژړوي مې تر سهاره ګلې ستا مينه ده
چې ټوله شپه يم ناقراره بې وفا مينه ده
ارام مې نشته په بستر کې سترګې نه پټيږي
په ټول عالم کې رسوا شوې اوس زما مينه ده
د ليونتوب حال مې ليدلی دی هرچا په سترګو
ګريوان مې څيرې کرځوم دا د ليلا مينه ده
خيال کې مې ته فکر کې ته يې نازولې ليلا
ژوند مې شه خاورې که مې زړه کې د بل چا مينه ده
لکه د قيس غوندې په غرو رغونو ورک يم مدام
زړه مې بايللی دا مې تا سره رښتيا مينه ده
ټکور په کاڼو باندې مه ولیء دخدای لپاره
ناروانه خلکو وګوریء روا مينه ده

شاعر: افضل ټکور
ترتيب کوونکی: عبدالقادرمسعود